د مې درېیمې، د رسنیو د نړیوالې ورځې په مناسبت له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان تحلیلي گزارش



۳ May ۲۰۲۳ ۱۴۰۲ غويي ۱۳

تر هرڅه وړاندې ټولو افغان رسنوالو او د بیان پر ازادۍ باورمنو انسانانو ته د رسنیو د نړیوالې ورځې له کبله مبارکي وایو.

په افغانستان کې د جمهوریت، دیموکراسۍ او د بیان د ازادۍ له سقوط څخه څه کم دوه کاله اوږي. دا موده په افغانستان کې د ټولو مدني ارزښتونو د له منځه تللو ترڅنګ، تر ټولو زیات د بیان د ازادۍ اصل، د رسنیو خپلواکي، اطلاعاتو ته د لاسرسي حق او خبریالانو او رسنوالو زیان لیدلی دی.

یوازې په تېر یوه کال کې په افغانستان کې دننه ۲ خبریالان وژل شوي، ۵ په بدحال کې زندانیان دي. د طالبانو واک ته رسېدو په لومړنیو درې میاشتو کې ۴۳٪ رسنیو خپل فعالیت په ټپه ودراوه. د جمهوریت تر راپرځېدو پورې ۱۰۷۸۰ افغانانو په رسنیز سکتور کې کار کاوه، له دې شمېر څخه یې ۸۲۹۰ تنه نارینه او ۲۴۹۰ تنه ښځینه کارکوونکي وو. اوس له هرو پینځو ښځینه خبریالانو څنې څلورو (۸۴٪) خپلې دندې له لاسه ورکړي، په ۱۵ ولایتونو کې هېڅ ښځینه خبریاله یا د رسنیو کارکوونکې نه شته.

په ټولیزه توګه د طالبانو تر واکمنۍ روسته ۲۳۷ ځله د خبریالانو د حقونو د ترپښو لاندې کېدا خبرونه ورکړل شوي دي. ټولټال ۹۴ خبریالان نیول شوي، چې ۴۹ نیونې او ربړونې په پلازمېنه کابل کې پېښې شوې دي.

د خبرورکولو پرمهال ۳۰ ځله له خبریالانو سره تاوتریخوالی شوی دی او د دې تحلیل تر لیکلو ٦ اونۍ وړاندې په بلخ کې د یوې چاودنې له امله ١٦ تنه خبریالان ژوبل شول.

له هېواده د خبریالانو او رسنوالو پراخ مهاجرت او د کډوالۍ په چاپېریال کې دوی ته ورپېښې ستونزې د دغه وضعیت بل ځورونکی اړخ دی.

ترهرڅه وړاندې د هغو خبریالانو وضعیت ډېر تیاره دی، چې په پاکستان، ایران،هندوستان او د سیمې په یو شمېر نورو هېوادونو کې له یوه ناڅرګند برخلیک سره مخ دي. له دوی څخه ګڼشمېر یې په کوربه هېوادونو کې د هستوګنې لپاره قانوني اسناد نه لري. له بدو اقتصادي ستونزو کړیږي، وزګار دي او له ځینو څخه یې داسې لرزوونکي خبرونه رارسیږي، چې اوربدل او زغمل یې خورا سخت دي. یوشمېرخبریالانو ویلي، چې مجبور دي د خپل وجود غړي وپلوري او خپلو ماشومانو ته پرې ډوډۍ واخلي. یوشمېر یې د کوربه هېوادونو له خوا نیول شوي او ربړول شوي هم دي.

Kiefernweg 63452 , 5, Hanau, Germany Email: official@ajso.org Cellphone: +4917876251O2

هغه خبريالان، چې لويديزو هېوادونو ته رسېدلي، يو څه په ښه حالت کې دي، خو د دوی لويه اندېښنه دا ده، چې ښايي له خپل مسلک څخه لرې او پر نورو کارونو بوخت شي، چې دوی يې تجربه نه لري. همدا راز دوی ته د نويو ژبو زده کول، د مسلکي وړتيا لوړول او په نوي ژوندچاپېريال کې د ادغام او روږدي کېدو ننګونه ويروونکې ښکاري.

که څه هم له هېواده د تبعيد شويو خبريالانو دقيقه شمېره لا هم نه شته، خو يوازې په پاکستان کې همدا اوس هم شاوخوا ۲۰۰ خبر يالان او کورنۍ يې په بد حالت کې د خپل ناڅرګند برخليک روښانتيا ته شېبې شماري.

دا خو د خبريالانو او رسنيو د کار د څومره والي (کميت) اړخ دی. غميزه تر دې ژوره او پېچلې ده. د ټولو هغو رسنيو لپاره چې په افغانستان کې دننه او ان په بهر کې د افغانستان لپاره فعاليت کوي، له کيفي يا د څرنګوالي له اړخه هم وضعيت تر دې تياره او تور دی. په افغانستان کې فعال خبريالان او رسنۍ له شديدې ځانسانسورۍ ځوريږي، هيڅوک هيڅه د واکمن نظام له خوښې او منښت پرته څرګندولای نه شي. تفريحي پروګرامونه، موسيقي، سياسي بحثونه، مدني تحليلونه نه شته، رسنيزکميونيکېشن يواړخيز دی او د خلکو غږ په ستوني کې خپک شوی دی.

افغانان په ټوليزو جالپانو کې فعال دي، ګڼ خبرونه د شايعاتو او اوازو په ښه خپريږي، چې د سمون يا ناسمۍ په اړه يې هېڅ مسئول رسنيز بنسټ سپيناوی کړلای نه شي. د ټوليزو رسنيو له خپرونو ښکاري، چې په افغانستان کې جګړې، وژنې، ترور، تښتونې، جنايي پېښې، د عقايدو تفتيش، د ښځو کړول، د پخوانيو پوځيانو تعقيب، تعذيب، ترور، وژنې او ورکېدنې په شدت روانې دي، جنايي پېښې د پراخې وزګارۍ او بېوزلۍ له کبله هره ورځ په پراخ کچ پېښيږي، د مخدره موادو کاروبار او د لسګونو ناپېژاندو بهرنيو ترهګرو بنسټپالو ډلو شتون او تګ راتګ د خلکو د روانې ربړولو لامل دي، خو د هېڅ يوې پېښې يا خبر په اړه اعتباري رپوټ نه خپريږي.

نړيوالې پېژندل شوې رسنۍ، چې افغانان ورسره له لسيزو اشنا وو، لکه بي بي سي، امريکاغږ، ازادۍ راډيو،دويچه وله او نورې، په افغانستان کې يې ليدل او اوربدل بند يا محدود شوي دي.

د سقوط پر مهال د نړيوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او لويو ځواکمنو هېوادونو د سياستونو په اړه د افغانستان خلکو عامه افکارو منفي انتباه او اخيستنې ورخپلې کړې دي. د افغانانو په عامه ذهنيت کې دا باور بنسټې شوی دی، چې نړيوالو دوی د ولسواکۍ، بشري حقونو، دښځو حقونو، د تعليم حق، د بيان ازادي او د رسنيو د ازادۍ په شان د بنسټې حقوقو ساتنې په برخه کې يوازې پرېښي او د خپلو سيالیو او ستراتيژيکو ګټو د ورخپلولو لپاره يې د دغو ارزښتونو د تحقق لپاره مرسته و ملګرتيا ريښتينې نه وه.

د ناهيليو او تيارو په دې ټول پراخ افق کې د هيلو څه نا څه څرکونه هم شته. د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې تبعيد شوي خبريالان، د ژورناليزم متخصصان او استادان سره په تماس کې دي. دغه رسنيز ظرفيت په نشته امکاناتو کې هڅه کوي خپل تخصص، تجربه او مسلک په نوې بڼه په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي مهمې اړتيا ته ځانګړې کړي. په همدې بهير کې د ۲۰۲۲ کال په اګست مياشت کې له افغان خبريالانو د ملاتړ سازمان بنسټ کېښوول شو، چې تر دې دمه پامور بریاوې لري:

- د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د مېشتو افغان خبريالانو ترمنځ همغږي،
- له نړيوالو مسلکي او اړوندو بنسټونو او سازمانونو سره د افغان خبريالانو د ستونزو د حل لپاره اړيکي او همکاري،

- د افغان خبريالانو او ټولو هغو رسنوالو، چې په ريښتينې توگه يې په دې برخه کې کار کړی دی، په يوه ستنډرد ديتابېس کې ثبت او تنظيم،
- د ملگرو ملتونو سرمنشي، د بشري حقونو نړيوالو بنسټونو، د کډوالۍ نړيوالو ادارو او اړوندو سازمانونو ته د افغان خبريالانو د ستونزو او ربړو په اړه د هغه ليک استول، چې ٦٠٠ افغان خبريالانو لاسليک کړی دی.

تر دې ورهاخوا د يوشمېر نورو بنسټې اقداماتو عملي چارې ترلاس لاندې دي.

د افغان خبريالانو په نوښت او اراده هلته او دلته د يو شمېر نويو رسنيو د سر راپورته کولو هڅې هم شوي دي او افغان خبريالانو د خپلو او نورو خبريالانو د مسلکي کار او فعاليت د دوام لپاره هلې ځلې پيل کړې دي.

په دې منځ کې د يوې افغاني، مسلکي او د ژورنالېزم اخلاقو ته د ژمنې رسنۍ يا رسنيز مرکز تشه په شدت احساسيږي. داسې يو خبري اژانس، چې افغانان پرې باور وکړي او غږ يې د افغانستان دننه او بهر ټولو افغانانو ته ورسېدلای شي.

په دې توگه به د افغانانو د عامه افکارو د بې نظمۍ او د دغه هېواد د خلکو د عامه ذهنيت د ګډوډۍ او بېباورۍ فضا يوڅه بدله شي. مور ۲۰۲۳ کال په همدې هيله او اراده پيل کړی دی او هيله لرو نړيواله ټولنه او اړوند نړيوال بنسټونه يې ملاتړ وکړي ، مور دا منو، چې په دې برخه کې لومړنی مسئوليت پخپله د افغانانو دی، چې په دې برخه کې سره يو شي او په ګډه په دې اړه ځانونه ټاکليو اهدافو ته ورسولای شي.

د مې درېيمه – د رسنيو نړيواله ورځ- د داسې اپيل د تکرار او په افغانستان کې د بيان د ازادۍ د حق د بيا راستنولو لپاره د غږ ايستلو تر ټولو ښه موقع ده.

دغه ورځ دې يوځل بيا د نړۍ ټولو رسنيو او رسنوالو ته مبارک وي.

د افغانستان د خبريالانو د ملاتړ سازمان